# د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت

**د 1401 لمریز کال د غبرګولي میاشتي له پیل نه تر پای پورې عمده فعالیتونه.**

1 – د بلخ ولایت د کلدار ولسوالی یوه څنډه چې له ازبکستان هېواد سره ګډه پوله لري (۳۹,۱۶۵) کیلومتره سیمه بررسي شوې ده.

2 – د پکتیا ولایت ډنډ پټان ولسوالی (۲۶،۰۴) کیلومتره سیمه بررسي شوې ده.

3 – د پکتیا ولایت د آریوب ځاځي ولسوالی (۱۵,۶۴۲) کیلومتره سیمه بررسي شوې ده.

4 - د کوچیانو لپاره د اسکان او انسجام بنه خدمتونه وړاندې شوي دي.

5 - د کوچیانو دهویت پیژندني فارمې په منظمه توګه برابر شوی دی.

6 - کوچیانو ته د پاسپورټونو د اخیستلو په موخه لا زم خدمتونه وړاندې شوي دي.

7 – کوچیانو ته د غوره روغتیایي او وترنري خدمتونو وړاندې کولو په موخه د عامې روغتیا، کرنې او مالدارۍ چارو وزارتونو سره ناسته ترسره شوې ده.

8 – د کوچیانو د هویت پېژندنې جدول یا فارمې په منظمه توګه برابر او اړوندو ولایتونو ته په متحد المال ډول استول شوې دي.

9 – د ټولو ولایتونو د رسمي سرخېلانو د ټاکلو د دوسیوسیستم (پروتوکول، خلص سوانح) تنظیم او په متحدالمال ډول اړوند ولایتونو ته استول شوي دي.

10 د 1401 کال د غبرګولي میاشتې 18 نېټې د بېلابېلو ګڼه لیکونو پر اساس له (UNAMA,HNHCER,WHO) او په ۱۴۰۱/۳/۳۱ نیټه د اقتصاد، کډوالواوبیا راستنېدونکو، له طبیعي پېښو سره د مبارزې چارو وزارتونو او افغاني سرې میاشتې ریاست سره د کوچیانو لپاره د بشر دوستانه مرستو او پروژو په اړه همغږي رامنځته او د مرستو غوښتنه شوې ده .

11– د جرګه او هموطن مجلو د ډیزاین او چاپ چارې بشپړې شوې دي.

12 – د وزارت اړوند ادارو ته (۵) داني ټاپې جوړې شوې دي.

13 – د وزارت د اړوند فعالیتونو په اړه، خبرونه، رپوټونه، مطبوعاتي او قراردادي خبرتیاوې د وزارت له رسمي ویب پاڼې او فیسبوک پاڼې له لارې خپرې شوي دي.

14- د غبرګولي په میاشت کې قبایلو ته (50) قطعې کارټونه وېشل شوې دي.

15 - دېلان له مخې (۳۶۰) کسان علما او روحانیون په مرکز او ولایاتونو کې ثبت او راجستر شوي دي.